# ساختيات: ژبني او ادبي تنقيدي طريقه او مترقي نقاد

**Structuralism: Linguistic and Critical Philosophy and Marxist Critic**

ډاکټر اصل مرجان (محب) وزير*

**Abstract:**

Structuralism is the study of language, culture and society in relation to a coherent abstract system. It is derived from the linguistic study of the individual Ferdinand de Saussure who later applied Claud Levi-Strauss to anthropology in his study of mythology and Jacob Son and Roland Barthes applied it in the literature and thus became a regular critical school called Structuralism.
This article presents an evolutionary study of the structure from Saussure`s linguistic Study and then elaborates on the criticisms of Marxist critics on Structural criticism. On the one hand, this article highlights the virtues of structuralism, but on the other hand it reveals the flaws that distract Third World writers from the basic human problems and keep them busy in the text.

**Key words:** Structuralism, Linguistic, Critical Philosophy, Marxist Critic.

ساختيات په بنيادي توګه يوه ژبني/لساني مطالعه ده چې د ساخت سره تعلق ساتي خو د لسانياتو دغه ساختياتي مطالعه د بشرپوهنې او عمرانياتو تر څنګ ادبياتو هم خپله کړې ده او نن د ساختياتي تنقيد يوې نوي څانګې په ترڅ کښې د ادبياتو مطالعه کېږي. خو دا بايد ياده کړی شي چې

"ساختيات يا ساختياتي تنقيد يوه تنقيدي نظريه خو ده، ولې دا نه خو د ماديت، مارکسيت، وجوديت په شان باقاعده کومه فلسفيانه نظريه ده او نه د ټولنپوهنې، بشرپوهنې يا ارواپوهنې په رنګ باقاعده کوم علمياتي (Discipline) حېثيت لري. دا تش د پوهېدنې يا پوهونې يو ځانګړی انداز يا طريقه ده." (1)

"د ساخت (Structure) نه وتې اصطلاح په ساختيات (Structuralism) پېژندل کيږي چې د څيزونو د ساخت پېژندنې علم ته ساختيات وئيلی شي او په لسانياتو پورې اړونده ده چې د دې ترمخه د لوستونکي او ليکونکي د خيالا تو او نظرياتو او هنر او اسلوب او انداز نه زيات د ژبې ساخت ته اوليت بخښي." (2)

---

* Director Pashtoonkhwa Study Center, Bacha Khan University, Charsada

زیاتره ساخت د هیئت په معنو کښې پېژندل کېږي (روسیه هیئت پسند هم زموږ په نظر کښې دي) خو داسې هرګز نه ده. ساختیات د هېئت/ډانچې په ځای د نظام/نظم په معنو کښې موږ ته ځان راپېژني. د بېلګې په توګه انساني بدن د هډوکو یوه ډهانچه خو ده ولې ساخت نه دی ، ځکه چې

"ډهانچه خو یو کوټلی شی وي او ساخت/ساختیه د کوټلو اندامونو په ځای په خپلویو (رشتو Relations) اړانه وي."(3)

"ساخت درې قسمه ښودل کېږي، یو ارکیټېکچرل ساخت دی چې د بېلابېلو اجزاو (شیانو) یو منظم شکل لري، لکه عمارت چې د ډېرو خښتو، اوسپې، سیمټو نه ساز شوی دی. کرسۍ چې د لرګو د ټکړو نه سازه ده، ټېپ ریکارډ چې د بېلابېلو پرزو نه جوړ دی. دارنګه ساخت سره بېلول کېدی شي او د هر جز (څیز) ځان ځان له ساخت یا وجود یې هم لیدل کیږي او تر څه حده بیا سره پېوست کېدی هم شي. دویم نامیاتي ساخت، کوم چې د ژوندیو بدنونو (اندامونه او روح) سره تعلق ساتي، لکه انساني بدن چې د غوښې، وازدو، هډوکو او وینې نه رغ شوی دی، مرغان، حشرات او نور چې بېلابېل اجزاء یې سره بېلېدی شي او ځان ځان له پېژندل کېدی هم شي، ولې بیا سره جوړېدی نشي. دریم ریاضیاتي ساخت دی. دا قسم ساخت د نورو دوو قسمونو په رنګ کوم کوټلی وجود نه لري. دا یو ذهني او تصوراتي ماډل (نمونه) وي چې د کائنات او یا بیا د سماج او کلتور د مظهرونو تر منځه د خپلویو/تړون (رشتو) ناپ تول هم کوي او د هغې د تشریح او توضیح کار هم ترسره کوي."(4)

د دغه دریم قسم ساخت پېژندګلو هله کېدی شي چې د هغې مرکزي نکته سړی په خپل ګرفت کښې راولي. ساختیات هم دغه ریاضیاتي ساخت ته ورته یو ماډل راپېژني.

"دا د هیئت او ماهئیت په ګډون د یوې فنپارې د ټول جمالیاتي انتظام مطالعه کوي. دا د یوې فنپارې/کردار د ټول نظام مجموعي رویه (Behavior of the system) پخپله ولقه کښې ساتي. مطلب دا چې د ژوند هره شعبه یا هر یو شی د خپلوۍ/تړون (رشتو) د یو کوټلي نظام سره تړلی شوی دی. څیزونه د خپلې ځانګړتیا یا د نورو څیزونو نه د جدا کولو یا پرېکولو په رڼا کښې نه شي پېژندل کېدی، بلکې د یو غټ (Larger) ساخت (نظام) سیاق کښې ورته کتل پکار دي."(5)

"د ساختیاتو ترمخه معنا/جوهر/روح په شیانو کښې د ننه خوندي کوم شی نه دی، بلکې دا د شیانو نه ورچنې د شیانو یو صفت وي یا یو تصور وي چې انساني دماغ کښې د شیانو د پاره مختص وي، کوم چې شیانو ته معناوې ورکوي."(6)

"په ادبي تناظر کښې موږ داسې هم وئيلی شو چې ساختيات د يوې فنپارې د پوهېدنې په دوران کښې لوستونکی د متن نه لرې لرې بوځي او د متن اړيکې د مبهمو سوالونو سره جوړوي."(7)

"د ساختياتو بنسټيز اصول د فرديناندي سوسيئر (Ferdinand de Saussure) (۱۸۵۷-۱۹۱۳) د لسانياتو په اړه د راوړل شوو خيالا تو نه ماخوذ دي. دا بنيادي توګه په جېنوا پوهنتون سوئټزرلېنډ کښې د ورکړيو شويو لېکچرونو يوه ټولګه ده چې د دوي د مرګ نه پس د دوي شاګردانو د (Course de Linguistique Genrale) په نوم چاپ کړې ده. د سوسيئر تر زمانې پورې دا تصور عام وو چې نړۍ/ژوند د ازادو شيانو يوه مجموعه ده او د هر څيز ځان له تعريف او توضيح او درجه بندي امکان لري، دغه رنګه ژبه هم د ټکيو (لفظونو) يوه مجموعه ګڼل کېده چې د هر ټکي ځان له خپله معنا او مفهوم دی. د سوسيئر اولنی قدم دا وو چې ژبه د تسميې (Nomenclature) نظام نه دی بلکې ژبه د افترا قاتو نظام دی. د ژبې کار شيانو ته د نومونو ورکول نه دي بلکې شيانو ته د يو بل نه د فرق په اساس پېژندګلو ورکول دي. د سوسيئر بل قدم دا دی چې د ژبې په کالبوتونو او عواملو يې خپله توجه صرف کړه چې ژبه څنګه خپل کار ترسره کوي او د ګرائمر ساخت څنګه د ژبې نظام جوړوي يا متعين کوي. سوسيئر زياته کړې ده چې د ژبې مطالعه د تاريخي ارتقاء په ځای د وحداني نظام (Gestalteinheit) په ترڅ کښې کول پکار دي. د وحداني نظام نه د هغوی مراد "نن" دی، مطلب موږ ژبه هره ورځني ژوند کښې څنګه کاروو؟دغه قسم مطالعې ته هغه د Synchronic نوم ورکوي او د ژبې سائنسي مطالعه يې ګڼي."(8)

"د ساختياتو په لړ کښې دويم او ډېر مهم نوم د کلاډ لېوي سټراس (Claud Levi-Strauss) (۱۹۰۸- ۲۰۰۹) مخې ته راځي. حقيقت دا دی چې ساختياتو د تحريک حېثيت هم هله ترلاسه کړو، کله چې لېوي استراس خپل کتاب وحشي سوچ (The Savage Mind) په کال ۱۹۵۵ کښې چاپ کړو."(9)

"د دوی تعلق د فرانس سره وو او په بنيادي توګه ماهر بشريات وو. د سوسيئر د لسانياتي مطالعې په ترڅ کښې يې د زړو اساطيرو مطالعه وکړه او د ساختياتي بشرياتو بنسټ يې کښېښودو. د اساطيرو د وضاحتونو او تشريح او توضيحاتو په ځای يې د هغې د ساخت لوسته وکړه کوم چې د ټولو اساطيرو ګډ/شريک قدر دی. لېوي سټراس وړومبی داسې مفکر دی چې د سوسيئر ساختيات/ساختيه يې په حقيقي معنو کښې وپېژندله او د هغې په وساطت يې د انساني ذهن قسماقسم جوړښتونو (تشکيلات) ته خپل ذهن ورسولو. د دوی په خيال اسطورې هم د ژبې په رنګ مخالف جوړې لري. د نړۍ د بېلابېلو سيمو په اسطورو

کښې يې يو شان ساخت دريافت کړو او هغې ته يې د انساني ذهن د آفاقيت نوم ورکړو. د وحشي او مهذب، سپين او تور، عقل او جذبې، انجينئر او عام کاريگر تر منځه چې کوم فرق خلقو خپل کړی دی يا يو بره او بل ښکته، يو غوره او بل خوره، يو بهتر او بل کمتر گڼل شوي دي، دا هر څه د دوي په خيال د انساني ذهن د ناسمې لوستې (مطالعې) په بنياد شوي دي."(10)

"دريم کس چې د ساختياتي ادبي نقاد په توگه پېژندل کېږي، هغه رولان بارتهـ (Roland Barthes) (۱۹۱۵- ۱۹۸۰) دی. دا هم فرانسيسي نقاد دی چې اول ساختياتي او بيا وروستو پس ساختياتي او يا د دواړو تر منځه د پل حېثيت لرونکی نقاد دی. هغه د معنا په ځای د معنا په لټون کښې زيات مشغول وو. معنا خو سړی اودروي او د معنا لټون انسان ته د دريافت چل ښيئ. په روايتي نقادانو د هغه اعتراض هم دا وو چې دوي د ټکيو (لفظونو) صرف يوه معنا (او هغه هم لغوي) پېژني."د ليکونکي مرگ" (Death of the Author) د رولان بارتهـ پېژندل شوې نظريه ده. د دغه مضمون په شروع کښې د مېلارمې په حواله د " ژبه وئيل کوي ليکونکی نه" (The language speaks not the author) اعلان کوي مطلب چې کوم څه ژبه وايي يا وئيلی شي هغه ليکونکی نه شي وئيلی. معنا دا چې ژبه يو ستر کلتوري نظام لري او د خپلويو (رشتو) يوه ډېره وسيع دائره لري چې هغې سره د ليکونکي ټکي خپلې معنې اړوي را اړوي."(11)

"د فرناندې سوسيئر نه وړاندې دا تصور ډېر عام وو چې نړۍ يا کائينات د داسې ازاد وجود/حېثيت لرونکيو شيانو نه وجود موندلی دی چې د هر څيز خپل يو معروضي تعريف او تشريح هم کېدی شي او درجه بندي هم، دارنگې ژبه هم د ټکيو (لفظونو) د يوې داسې ټولگې (مجموعې) نوم دی چې اصل موخه يې شيانو ته نومونه ورکول دي."(12)

"د نومونو ورکولو دغه عمل د اسميت/تسميت (Nomenclature) په نوم پېژندل کېدو چې زياته پاملرنه ورته په مدرسيت (Scholasticism) کښې ورکړل شوې وه."(13)

"د سوسيئر تر ټولو اهم کار دا گڼل کيږي چې د ژبې نه يې دا د تسميې ذمه واري وترورله او د دې په ځای يې د نسبتيت (Relational) تصور ورکړو او ژبه يې د څيزونو نه وړاندې د تصوراتو يو عمل وگڼلو. معنا دا چې څيزونو ته ژبه نومونه نه ورکوي، بلکې څيزونه انساني ذهن کښې موجود تصوراتو او د نورو شيانو سره د فرق په اساس پېژندلی کېږي. د دې دا مطلب هم راووځي چې د يو څيز موجودگي د بل څيز غېرموجودگي، لکه موږ چې کله سړی يادوو نو ښځه نه يادوو. دلته د سړي موجودگي د ښځې د نشتوالي په معنا دی." (14)

"سوسيئر دا تصور هم ناسم (غلط) وګرزولو چې ګني د ژبې مطالعه دې په تاريخي توګه (د مثال په توګه فلانی ټکی په کوم وخت کښې د څه د پاره کارول کېدو او څنګه کارول کېدو) وشي، بلکې د يک زماني/وحداني تصور سره د دې مطالعه به سمه او سائنسي وي."(15)

"د دې ترمخه دا کتل کېږي چې په يو خاص وخت يا دور کښې د ژبې کار کولو نوعيت څه دی او ژبه څنګه عملي شوې ده."(16)

" تاريخي لسانيات د ژبې د خبرو اترو (تکلم)، نحوي او معنياتي اړخونو او په هغې کښې د راغلو بدلونونو د محرکاتو مطالعه خو کوي، ولې تاريخي لسانيات د دې سوال د حل کولو جوګه نه دی چې کومه ژبه په لمحه موجود کښې د يو مکمل ابلاغي نظام په توګه کار ولې کوي؟د دغه سوال د حل کولو د پاره د سوسيئر په وړاندې د ژبې داخلي نظام او يو مرکزي اصول لټول دي او دغه مرکزي اصول ته د ساخت نوم ور کړل شوی دی."(17)

"سوسيئر دا خبره هم وکړه چې د ټکي (لفظ) او معنا ترمنځه کوم منطقي/فطري تړون نشته بلکې دا تړون يې جبري دی. د ټکيو نه معنا د خپلې خوښې/اختياري (Arbitrary) په توګه موږ اخلو. د دوي په خيال چې دا عمل د يوې زمانې راسې راروان دی، ځکه موږ ته داسې ښکاري چې ګني هر ټکی د يو خاص تصور سره تړلی دی. خو حقيقت داسې نه دی. که چرته داسې وی نو غوا ، غوايه، اوښ، اسپه، باران، توي، خوږ، سېلاب او داسې نورو ټکيو سره به د يو داسې کس په ذهن کښې هم د دې ټکيو سره زموږ په ژبه کښې تړل شوی تصور رامخې ته کېدی، څوک چې زمونږ په ژبه نه پوهېږي. د دې نه ښکاره شوه چې د دې ټکيو سره تړل شوی تصور موږ د خپل روايت نه اخستی دی کوم چې اوس زموږ کلک عادت جوړ شوی دی."(18)

په دغه لړ کښې که موږ لږ غور وکړو چې په وړومبي ځل چې دا پورتني ټکي د کوم تصور د پاره کارول کېدل نو د خلقو په ذهنونو کښې د دې ټکيو سره دا تصور به لږ عجيبه عجيبه نه وي لګېدلی يا نن چې موږ يو اجنبي کس ته غوا وايو نو د هغه په ذهن کښې د هغه څاروي (چې موږ ورته غوا وايو) تصور راځي؟ او که نه هغه به موږ په اشارو پويوو او يا به يې د ژبې په فطري اوازونو پويوو لکه بااااان بااااان.

"د ژبې دا مرکزي اصول چې د ساختياتو پوهان ورته د لساني ساخت نامه ورکوي. سوسيئر د دغه لساني ساخت د وضاحت د پاره د لانګ (Langue) يوه اصطلاح راوړي. دا د يوې ژبې تجريدي ساخت وي، په اسانو ټکيو کښې دا د ژبې قاعدې او ضابطې (ګرائمر) وي، خو دا په ګرائمر نه يو قدم وړاندې کار کوي ځکه چې دا د لساني قاعدو او ضابطو د سرچينو

وضاحت هم کوي. د دغه لانګ د پوهونې د پاره سوسیئر یوه بله اصطلاح د پارول (Parole) په نامه کاروي چې مراد یې خبرې/غږېدا (ګفتار) ده."(19)

د هغه په خیال د دغه عامو خبرو اترو (پارول) په شا د ژبې تجریدي ساخت (لانګ) کار کوي. معنا دا چې لانګ تجرید دی نو پارول یې کوټلی مظهر دی. بلکل ساده خبره ده کله چې موږ په یوه ژبه کښې خبرې کوو، نو د هغې په شا یو ګرائمري نظام (سسټم) خامخا زموږ په ذهن کښې موجود وي. که دغه ګرائمري نظام (تجریدي ساخت) د چا په ذهن کښې د یوې ژبې موجود نه وي نو هغه چرې هم خبرې اترې نشي کولی. په نورو ټکیو کښې دا وئیلی شو چې لانګ د پارول په وسیله خپل پټوالی (پراسراریت) ښیئ.

"نوم چومسکي د تجریدي ساخت (لانګ) د پاره د صلاحیت/استعداد (Competence) او د کلام یا خبرو اترو (پارول) د پاره د ادائیګي/کارکردګي (Performance) ټکي کارولي دي."(20)

"چومسکي دا هم زیاتوي چې په یوه ژبه د پوهېدلو د پاره اولنۍ نکته د ویونکي هغه وړتیا (اهلیت) ده چې د ژبني ساخت/نظام په لاشعوري توګه د اخذ شوي علم په بنسټ په شائسته انداز جملې (غونډلې) جوړې کړي او وربانديې پوهه شي."(21)

"دغه رنګ هنري برګسان د زمانې د ګردش د پاره (Serial Time) او د متسلسل د پاره (Duration) ټکي کاروي، مطلب دا چې زمانې ګردش خو وخت په ماضي ، حال او مستقبل کښې تقسیموي او متسلسل وخت په زمانو کښې نه تقسیموي، بلکې دا درې واړه زمانې په ویلي شوي صورت کښې د موجوده لمحې په یو لوښي کښې راغونډ شوي وي. دارنګې سګمنډ فرائیډ د شعور او لاشعور اصطلاحات مخې ته راوړي دي."(22)

"د لانګ تصور په ټولنه کښې اغږلی شوی دی، مطلب دا د ټولنې شریک میراث وي او پارول د دې ټولنیز شریک میراث یو داسې مثال وي چې د ویونکي (فرد/انفرادي) په خبرو اترو کښې موږ ته ښکاري."(23)

"د دې اسان مطلب داسې هم کېدی شي چې مونږ څومره څه وئیلی شو ، د هغې نه په څو چنده زیاتو باندې پوهېږو هم چې مثال یې سوسیئر د لوبې (کهېل) ورکوي - یو کس که د لوبې په اصولو خبر وي ، نو هغه که د لوبې د شروع نه پس هم میدان ته راورسېږي، د لوبې په پوهېدو کښې ورته هېڅ مشکل نه پېښېږي. مقصد دا چې که یو کس د لوبې (کهېل) په ګرائمر (تجریدي ساخت/مرکزي اصول/لانګ) پوهېږي نو هغه لکه چې د لوبې په ژبه پوهېږي. دا رنګې که یو څوک دا لوبه ترسره کوي، نو هغه به د لوبې اظهار (د ګفتار/کلام/پارول) بلل کېږي."(24)

"سوسيئر ژبه د نشانياتو نظام ګڼي او د نشانياتو د پاره يې د سيميالوجي (Semiology) اصطلاح راوړې ده او ټکی د نشان (Sign) په نوم يادوي. د ټکي/نشان د معنا هډو ذکر نه کوي يا د ټکي د معنا تصور بېخي رد کوي، د هغې په بدل کښې دوه نور ټکي/اصطلاحات د دال (Signifier) او مدلول (Signified) په نوم مخې ته راوړي. دال (Signifier) هر هغه معنا ورکونکی ټکی چې وئيل شوی يا ليکل شوی وي او مدلول (Signified) هر هغه تصور يا شی يا معنا د کوم د پاره چې دال جوړ کړی شوی دی، لکه "لالټين" دال دی او د لالټين خيال يا تصور (پخپله لالټين نه) مدلول دی. دال د ژبې مادي شکل يا جوړښت ګڼلی شو او مدلول يې غېر مادي يا ذهني اړخ ګڼلی شو."(25)

" اصل کښې نشان هم درې قسمه دی، د مثال په توګه انغري نه لوګی ختل موږ ته دا پېغام راکوي چې اور بلېږي او ډوډۍ تيارېږي، دغه قسم نشان ته انډېکس (Index) وايي. بل قسم نشان چې په يورنګوالي (مشابهت) باندې اډانه دی، لکه د يو کس داسې پورټرېټ رغول چې د هغه کس د شکل و صورت سره سمې خوري، دغه قسم نشان ته آئيکان (Icon) وايي. دريم قسم علامتي (Symbolic) نشان دی، لکه ژړل چې د دې خبرې علامت دی چې دا ژړا کوونکی کس مرور دی، ګيلامن دی، ظلم، جبر او زياتی ورسره شوی دی. دغه دريم قسم نشان ژبني نشان (Linguistic Sign) ته ورته دی چې د هيئت (Form) او د خيال (Concept)يو تړون پکښې جوت دی. هيئت دال (Signifier) بللی شي او خيال مدلول (Signified) ګڼلی شي."(26)

" ټکی (لفظ) موږ له معنا نه راکوي، بلکې د ژبې په ساخت کښې (يا انساني ذهن کښې) موجود تصور دی چې موږ په ټکيو پورې تړلی دی. دغه معنا چې موږ يې د يو ټکي نه ګڼو په حقيقت کښې د جوهر په شان په دغه ټکي کښې موجوده نه وي."(27)

"دا خو ويونکيو داسې ګڼلې ده چې د فلاني ټکي دا معنا ده يا دا فلانی ټکی/نوم/نخښه دغه معنا يا تصور راښيئ او د دغو معنو په توسط سره موږ مفهوم اخلو يا څيزونه پېژنو. حقيقت داسې نه دی، بلکې د سوسيئر په خيال معنې په لساني تجريدي (ذهني) ساخت کښې د وړاندې نه موجودې دي، دا ټکي د هغو معنو د پاره تش د يوې نخښې کار کوي. د نشان په ترڅ کښې بله مهمه خبره دا کوي چې دا موږ ته صرف هغه ځانګړې معنا يا شی نه رايادوي، بلکې يو خو د هغې سره تړلی تصور رايادوي."(28)

بل په انساني ذهن کښې چې د دغه تصور سره په فرق يا مشابهت کښې نور څومره تصورات وي، هغه هم راولړزوي او د معناوو يو بهير مخې ته راشي او په متن کښې وسعت راشي.

دلته د سوسيئر د لسانياتي مطالعې يو بل اصول ته د خپلويو (رشتو/تعلق) نظام وايي چې د افتراق او اتسال په نوم پېژندل کېږي. يعني د يو څيز يا عمل پېژندګلو يا خو د فرق په اساس ممکن دي او يا بيا د مشابهت او يا د دواړو په بنياد دا پېژندګلو د نشانيانو (ټکيو/لفظونو) ترمنځه د فرق او مشابهت په اصول کېدی شي. د يو څيز يا نشان به د نورو ډېرو څيزونو يا نشانونو سره زښت ډېر د فرق تعلق وي او ډېرو شيانو يا نشانونو سره به يې د يورنګوالي (مشابهت) تعلق وي او د دغه ټولو متعلقه شيانو يا نشانونو مخې ته د راتلو نه پس د يو څيز يا نشان د صحيح نوعيت ادراک کېدی شي.

د فرق او مشابهت دا تصور د پاره موږ د "ترهګر" ټکی اخلو. ترهګر سره د فرق په تصور کښې زموږ ذهن ته بې شمېره نور تصورات راځي، امن، امن پسند، شريف، عدم تشدد، سوکالي، ورووالي، مينه او داسې نور. دارنګې په مشابهت کښې يې د خوف، ترهه، يره، بدامني، ټوپک، بم، ټېنک، کډوالي، چېک پوسټ او داسې نور بې شمېره يروونکي تصورات د سړي ذهن ته راځي. يا به د "استاذ "نشان (ټکی) واخلو. د استاذ سره په فرق کښې د ناپوهه، جاهل، ناديده، بې کاره، بې هنره، بې تعليمه په شان تصورات تړلي دي او په مشابهت کښې ورسره د جماعت، مدرسې، ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون استاذ، مېکنک، ګلکار، ډرائيور، نايي، موسيقار، ګلوکار، پوهه، دانشور، چلباز، دهوکه باز او داسې نور تصورات په ژبني/کلتوري ساخت کښې رامخته کېږي او دا هر څه که د لسانياتو نه پرته په تنقيدي تناظر کښې وګورو نو د معنو يو ويړ ميدان مخې ته پرانېزي.

د سوسيئر دا خبره چې نشان (لفظ) بذات خود کومه معنا نه لري بلکې دا تش يوه اشاره وي، هغه تصور (څيز) ته چې د ژبې په تجريدي ساخت (Langue) کښې موجود وي، د مثال په ډول موږ به يو نشان (ټکی) واخلو: "کوړې"، (په معنا د سپي د شړلو)، د دې ټکي کومه ځانګړې معنا نشته خو زموږ په مجموعي کلتوري ساخت او د ژبې په تجريدي ساخت کښې چې د دې سره يو خاص تصور تړل شوی دی چې د سپي د پاره د سپکوي عنصر هم پکښې دی. که خيال مو کړی وي، موږ چې کله د "کوړې" ټکی ادا کوو، نو يو قسم د سپکوي حرکت هم رانه بې اختياره وشي او زموږ په دغه صوت يا اواز هغه ټول خلق پوهېږي چې زموږ د ژبې د لانګ يا ساخت نه خبر وي، بلکې هغه سپی هم په دغه ټکي ځکه پوهېږي چې زموږ د مجموعي کلتوري ساخت سره اشنا وي. خو په کراچۍ کښې ما يوځل سپي ته ډېر کوړې کوړې وکړل، خو سپی په لاره کښې پروت وو او ماته يې ښغ ښغ کتل. راسره خوا کښې کسانو (چې د بلوچستان د مکران سيمې سره يې تعلق درلودو) راپورې وخندل چې دا د سپي سره څه اوتې بوتې وايي. ځکه چې د مکران سره اړه لرونکي (بلوچي ژبې ويونکي) هم زموږ د ژبې د لانګ سره عادت نه وو. اوس ښکاره شوه چې د کوړې ټکی/نشان موږ په جبري توګه د دغه تصور د پاره خوښ کړی دی، يعني د کوړې د معنوي تصور سره د دې ټکي کومه فطري خپلوي/تعلق/رشته

نشته. خو که ما چرته هم هغه بلوچي ویونکي ته د راډیو/ریډیو/رادیو ذکر کړی وی، نو هغه به سمدستي زما په خبره پوهېدلو. ځکه چې د ریډیو (Radio) د پاره د نړۍ زیاتره ژبو کښې هم دغه نوم/ټکی/نشان متعین شوی دی. وجه بنیادي دا ده چې د ریډیو د پاره په ژبني ساخت یا مجموعي کلتوري ساخت کښې کوم تصور موجود نه وو، ځکه ورته چا بدل نوم/نشان /ټکی هم متعین نه کړو.

د فردي نانډې سوسیئر د لانګ (د ژبې تجریدي ساخت) او پارول (د ژبې تکلم/وئیل/لیکل)، د نشان او بیا د نشان په دوو برخو دال (Signifier) (اشاره) او مدلول (Signified) (څه د پاره چې اشاره کېږي) د تقسیم دا ژبني/لساني فلسفیانه بحث که د نیولوجزم په تناظر کښې ګورو.نو د نورو ژبو/قامونو د ایجاداتو د پاره په عمومي توګه څوک جدا نومونه (ټکي/نشانونه) نه متعین کوي چې د دوی په ژبني ساخت یا مجموعي کلتوري ساخت کښې د هغو په اړه د معنې کوم تصور موجود نه وي، دوی هغه څیز چرته لیدلی یا متصور کړی نه وي. دا د فرد (موجد) ښخي ځانګړی تصور او د هغې تصور په بنسټ یو مادي شکل مخې ته راوړل وي. او زیارته نوم هم هغه موجد پخپله ورکوي، ځکه چې د دغه څیز معنوي تصور تش د مصور په لساني تجریدي ساخت کښې موجود وي. نو دغه موجد د ژبې هغه تجریدي ساخت کښې موجود تصور په اساس هغې له نوم ورکوي او نور ګړده نړۍ هغه نوم قبلوي چې د څیز او نخښې تر منځه یو فطري تعلق په ګوته کوي او د سوسیئر دې خیال ته تقویت وربخښي چې که چرته د څیز/معنې او نخښې/نوم/ټکي ترمنځه خپلوي/تعلق/رشته فطري وي، نو بیا هر چرته د یو تصور/معنې/څیز د پاره یو نوم/نخښه/ټکی ولې نه کارول کېږي.

دا خبره که لږه نوره مخ په وړاندې بوځو، نو وئیلی شو چې لکه موږ ته معلومه ده چې د کمپیوټر/لیپ ټاپ د یو جز نوم Mouse دی. زموږ د افغانستان ځینو کمپیوټري لغتونو کښې د دې د پاره "مږه" نوم/نشان کښېښودل شوی دی. اوس د مږې سره چې زموږ ژبني ساخت/مجموعي کلتوري ساخت کښې کوم تصور موجود دی، هغه د Mouse د تصور یا فنکشنز نه بېخي بدل دی. که د یوې لمحې د پاره موږ دا ومنو چې د کمپیوټر سستم سره لګېدلی د Mouse شکل د مږې په شان دی یا انګرېزۍ کښې مږې ته Mouse وئیل کېږي، نو ځکه دغه نشان/ټکی د Mouse بدل کېدی شي، نو دا به زموږ خام خیالي وي. د ایجاداتو دا سفر او د نیولوجزم دغه کلیه په دې ګلوبل تناظر کښې یوه نړیواله ژبه هم رامخته کولی شي.

اوسه پورې چې موږ کوم څه وړاندې کړل، هغه د سوسیئر د ژبني/لساني تجریدي ساخت د پېژندګلو په اړه وو. خو د سوسیئر نه پس لېوي اسټراس، جېکب سن او رولانډ بارتهـ او یو څو نورو د سوسیئر دغه ساختیاتي نظام په ادب هم د اطلاق کولو قدم پورته کړو او د ساختیاتي تنقید ستر عمارت یې اودرولو.

ادب د ساختياتو د نقطه نظر لاندې د سنجولو يو غټ جواز دا دی چې لکه څنګه چې ژبه يو ساختياتي نظام لري، نو ادب هم د ژبې پېداوار دی، بايد د ادب د پاره هم يو داسې کوټلی ساخت يا شعريات متعين شي چې د هغې په وسيله يو څوک د يوې ادبي ليکنې د معيار ټاکنه کولی شي.

"په دغه ترڅ کښې وړومبې خبره خو دا ده چې څنګه سوسيئر نخښه (نشان) په دوو برخو (دال او مدلول) کښې تقسيم کړو. د دغه تقسيم اصل مقصد هم دغه دی چې دال چرته هم د مدلول پوره احاطه نشي کولی، مطلب د معنا پوره حق نشي ادا کولی. يعني دا اشاره ده، پوره معنا نه ده لکه په خوب کښې چې يو سړي ته اشارې وشي. اوس د خوب مطلب او مفهوم خلق کوي خو هر سړی يې په خپل خپل انداز کښې د خوب په ترڅ کښې څوک هم دا دعوه نشي کولی چې د دې خوب هم دا معنا ده، بله معنا يې هډو کېدی نشي."(29)

بلکل هم د سوسيئر د نشان دغه تقسيم په ادبي متن باندې هم داسې اطلاق کېدی شي. ځکه خو په ساختياتي تنقيد کښې د قرات، قاري (قاري اساس تنقيد)، تعبيريت په نوم نوي تنقيدي اصول، ضابطې يا نظريې مخې ته راغلې چې نخښه (نشان) د معنو د تصور پخپله کوم کوټلی اظهار نشي کولی، نو د دې د پاره بايد متن د نورو اړخونو نه مطالعه کړی شي.

"ساختيات په ادب باندې د اطلاق اوليت خو رولاند بارتهـ ته ځي، خو ساختياتو ته باقاعده د يو تنقيدي دبستان په ورکولو کښې د روسيه هېئت پسندانو کردار د چا نه پټ نه دی او بيا په تېره تېره د رومن جېکب سن حېثيت پکښې د ملا د تير دی. رولاند بارتهـ دا خبره چې ادب هم ژبه ده نو بيا ولې په ادب د سوسيئر د ژبني ساخت اطلاق ونه کړو او څنګه چې د سوسيئر خبره چې" ژبه خبرې کوي سړی نه"، لېوي استراس اعلان وکړو چې"اسطور لګيا دی سوچ کوي انسان نه"،دارنګې رولاند بارتهـ هم دا اعلان وکړو چې ليک ليکل کوي ليکوال نه."(30)

د رولاند بارتهـ د دې اعلان نه مراد دا دی چې څنګه ژبه يو خپل تجريدي ساخت لري يا اسطوره يو ذهني ساخت لري، دارنګې ليک/ متن هم يو خپل داسې مربوط نظام لري چې د هغې په ترڅ کښې ليک ليکل کيږي او هغې مربوط نظام ته د شعريات نوم ورکول کيږي. په نورو ټکيو کښې دا شعريات د متن د لاندې په معنا دی کوم چې يو پټ (پراسراره) جوهر دی.

"د ساختياتو په ارتقاء کښې د لېوي استراس کردار ډېر مهم دی، خو د هغې نه وړاندې کردار پکښې د روسيې هيئيت پرستو دی. روسي هيئت پرستو اول خو دا چې په يوه ادبي فنپاره کښې د مواد/موضوع/ماهيت په ځای ژبه/بيان/هيئت ته زياته پاملرنه وه، ادب کښې د ناليدلتوب (نامانوسيت/اجنبيت) قايل وو چې د ناليدلتوب په وسيله اورېدونکي يا لوستونکي کښې د حېرانتيا عنصر رامخې ته کيږي او ادب زيات اثرناک شي. ادب څه دی

په ځای ادب څنګه دی؟ په شان سوال يې راپورته کړو چې په پایله کښې یې د ادبي هیئت او ادبي ژبې ته اهمیت ترلاسه شو او تخلیقي ادب محض یو ژبنی ساخت وګرځېدو."(31)

د روسیه هیئت پسندانو نه وړاندې لیکونکی د لیک/متن بادشاه ګڼل کېدو او د لیک/متن تشریح او توضیح به د لیکونکي د ټولنیز ژوند ژواک او حېثیت په رڼا کښې کېده، خو ساختیاتي تنقید (روسیه هیئت پسندانو) د دې اپوټه دا خیال راوړو چې ادب/لیک/متن یو لساني وجود لري نو د تنقید مقصد باید چې هیئت یعنې د لساني وجود مطالعه وګرځي.

د ساختیاتي تنقیدي دبستان په اړه د رومن جېکب سن د تشریحاتو او توضیحاتو نه بغېر زموږ بله چاره نشته. هغه باقاعده د دې د پاره لاندینې نقشې مرتب کړې دي:

تناظر/Context

مخاطب/Addresser ______ خبر/Massage ____ خطاب اورېدونکی/Addressee

رابطه/Contact ژبنی نظام/Code

مخاطب یو چا ته خبر ورسوي خو دغه خبر په خاص کوډ (لساني نظام) کښې ورکوي چې ویونکی او اورېدونکی دواړه په دغه خاص کوډ پوهېږي، هر خبر په یو خاص تناظر کښې ورکول کېږي او دغه خبر په یوه خاصه وسیله (خبرو اترو/لیک/رېډیو/فلم/ټېلي فون) ور رسول کېږي. دا د ژبې په اړه د اساسي پوهې یوه نقشه ده. اوس دغه نقشه چې کله ادب ته ځانګړې کوي نو ګوټي چند نارنګ یې شکلونه داسې بدلوي::

تناظر/Context

لیکونکی/Writer ______ لیک/متن/Writer ______ لوستونکی/Reader

ژبنی نظام/Code

دا برنۍ نقشه کښې موجود هر کردار (عنصر) د کار کولو یو خپل پس منظر لري، نو ځکه هغه دغه نقشه په یو بل ترتیب کښې اړوي:

تاریخي/Referential

جذباتي/Emotive ______ شعریت/poetic ______ تعبیري/Connotative

مافوق ژبني/لساني/Metalinguistic

دلته د تناظر په ځای تاریخي ټکی راغی چې مقصد یې یو اوږد ټولنیز شالید/پس منظر او د ټولنې تاریخي ارتقاء ښیئي. د لیکونکي په ترځ کښې یې جذباتیت مخې ته راوړو، مطلب لیکونکی د لیک وخت کښې د جذباتیت نه ځان نشي ساتلی. د لیک/متن په ځای په دغه نقشه کښې موږ د شعریت ټکی وینو چې د هیئت بدل ټکی دی. مقصد که په لیک/متن باندې نظر ورکړی شي، نو هیئت ته ټوله ټاله توجه اوړي. دا رنګې که د لوستونکي باندې ذمه وارۍ اچوو نو بیا به د تعبیر اړخ ته

زياته مهمتيا ترلاسه کېږي. خو که چرته د مافوق ژبې/لسان اړخ باندې توجه ورکو، نو بيا به هغه تجريدي ژبني/لساني نظام ته ځان رسوو چرته چې د معنو يو وير ميدان او ذخيره پرته ده. د فرق او مشابهت په ترڅ کښې موږ د دې وير ميدان وړاندې ذکر کړی دی چې د سوسيئر د لسانياتو پېژندنې يو مهم اصول دی.

د رومن جېکب سن د بنيادي ماډل/نقشې يو څلورم قسم هم ګوپي چند نارنګ وړاندې کوي چې هغې سره د تنقيدي دبستانونو پېژندګلو هم مخې ته راځي:

مارکسي/Marxist

روماني/Romantic ــــــــــ هيئتي/Formalistic ـــــ لوستونکي اړ/اساس/Reader-Oriented

ساختياتي/Structuralist

" دلته موږ کتی شو چې د تناظر ځای تاريخي او د تاريخي ځای باقاعده د تاريخي يا تاريخي ماديت علمبردار يو سکول آف تهاټ مارکسيت ونيو، د مخاطب/مصنف/جذباتي ځای روماني يا رومانوي سکول آف تهاټ ته مختص شو، د خبر/متن/شعريت په ځای هيئت پسند کښېناست، د اورېدونکي/لوستونکي/تعبيرکوونکي ځای ته د لوستونکي اړ (قاري اساس) تنقيدي دبستان راغی او په پنځم لمبر ورته د ژبني/لساني نظام په ځای ساختياتي تنقيدي دبستان مخې ته راغلو."(32)

"د پورتنو نقشو نه ښکاره کيږي چې ساختيات وړانديني ټول تنقيدي دبستانونه ردوي او د هغې په ځای د سوسيئر د لساني مطالعې په اساس د يو نوي تنقيدي دبستان رده کېږدي. د دوی بنيادي نکته هم هغه ده چې يوه نخښه/نشان چې کوم څيز/معنا ته اشاره کوي، هغه موږ د نورو نشانونو/نومونو/څيزونو نه اول خو د فرق په بنياد پېژنو او بيا يې د مشابهت په بنياد اوس د روسي هيئت پرستو په خيال په ادبي فنپاره کښې ادبيت تر ټولو مهم دی. نو دوی په فنپاره کښې د ادبيت د پېژندنې د پاره اول غېرادبيت ته مخ واړوي يعني په فنپاره کښې هغه کوم شيان دي چې غېر ادبي دي."(33)

د دوی په خيال چې غېر ادبيت ولټول شي، ادبيت خپل پخپله مخې ته راشي. لکه يو ساختياتي نقاد چې په يوه افسانه خبره کوي، نو د ټولو نه اول پکښې غېر افسانويت ګوري. د غېر افسانويت دا لټون يې دې پورې وهڅوي چې ووايي دا ناول نه دی، دا ډرامه نه ده، دا شاعري نه ده، دا غزل نه دی، دا تکل يا خاکه يا رپورتاژ يا سفرنامه نه ده او چې کله د هر ځای نه د نفي ځواب ترلاسه کړي نو هغه بيا افسانې ته هله افسانه ووايي. دارنګې د مشابهت په لاره هم د سوالونو لړۍ پېل کړي. دا افسانه چې نوم يې "ګجرې"دی، ''د کونډه جينۍ''په رنګ يوه افسانه ده يا د ''چارګل'' په رنګ يوه افسانه ده

یا د ”حبیب بنام سرکار“په شان یوه افسانه ده او دارنګې په سلګونه افسانې یو ساختیاتي نقاد په مشابهت کښې د ”ګجرې“ سره په قطار کښې دروي او د هغې په ترخ کښې د ”ګجرې“ قدر او قیمت ټاکي. ضروري نه ده چې ساختیاتي نقاد په لیک کښې هم دا هر څه (ټول قطار) راولي بلکې دا د هغه په ذهن کښې موجود وي چې د سوسیئر تجریدي ژبني/لساني ساخت ته اشاره کوي .

که په غور سره وکتی شي نو د سوسیئر/اسټراس/بارت/جیکب سن د نظریاتو او کوششونو په اساس ولاړ ساختیاتي تنقید یو ترون د سګمنډ فرائیډ د تحلیل نفسي په بنسټ ولاړ نفسیاتي تنقید او د کارل مارکس په نظریاتو ولاړ مارکسي/ترقي پسند /مترقي تنقید درې واړه په یوه نکته سره یو ځای کېږي هم د سوسیئر د ژبني/لساني نظام چې د کوم څه نه د معنې په لټون کښې دی، هغه په برنۍ سطح باندې نه بلکې کوم ترون/تعلق/خپلوي/رشته چې هغه لټوي، هغه ورته د فرق په بنیاد د ژبې د ټولو نه لاندې کچه (وړه نه وړه صوتیه/اواز) کښې ملاوېږي. دغه رنګ فرائیډ هم د یو نفسیاتي مریض ټوله قیصه (د مرض تشخیص) د هغه د ماشوم توب په ناخوشګوار واقعه کښې لټوي. بېخي دغسې کارل مارکس د ټولنې ټول جوړښت/ترون/خپلوي د ټولنې په معاشي نظام کښې غواړي. نو دلته د دوي د درې واړو ادب ته یا ټولنه ته د کتلو انداز یو دی خو د میدان (Field) مطابق یې انداز بدل دی.

د یو مترقي نقاد په ساختیاتي تنقیدي نظام چې کومې نیوکې کېدی شي، هغې ته په لنډو ټکیو کښې اشاره کول هم ضروري ګڼم.

وړمبی سوال: خو دا سوال مخې ته راولاړېږي چې لکه څنګه طبیعات د هر دا ګڼي چې د کائینات په یو کوټلي/مربوط نظام کښې سره چورلي، دارنګې تصوف هم د ”همه اوست“ په ترخ کښې دا خیال کوي چې ټول مظاهر د یو ذات اظهار/نمائیندګي کوي. دغسې کارل مارکس هم د ټولنیزو مظهریاتو په شا د معاشي خپلویو/تعلق/ رشتو یو خور وور جال موږ ته راپېژني چې سوسیئر یې په ژبني/لساني نظام کښې زوتوي.

دویم سوال: دغه پورتنی(اخرنی) پېراګراف ته که سوچ وکړو چې هر کله کارل مارکس ټولنه د مادیت/اقتصادي/معاشي ترون/تعلق/خپلوي یو نظام بولي او په دغه لړ کښې یې تاریخي مادیتي فلسفه نړۍ پېژني نو سوال دا دی چې د کارل مارکس کلیه سوسیئر په ژبه/لسان باندې خو ټک وهلی نه ده؟

دریم سوال: کارل مارکس ګڼي چې علم د ټولنیزې ارتقاء په بنیاد انساني ذهن اخذ کوي او د هغې تاریخي مطالعې په بنیاد د نوو حالاتو تجزیه یا د نوو انکشافاتو هڅه کوي. بل خوا ساختیاتي نقادان هم دا خبره کوي چې د یوې فنپارې لوستونکي سره د وړاندې نه خپل کوډز وي (دا کوډز د کومې نه

راځي؟ خو یا د انفرادي مطالعې نه او یا د اجتماعي شعور نه یا کامن سېنس نه چې د اجتماعي شعور دویم نوم دی) او د دغه کوډز په وسیله هغه د یوې فنپارې نه معنې وباسي."(34)

څلورم سوال: مورې وړاندې د سوسیئر قول"ژبه خبرې کوي سړی(باید د انسان ټکی وکارول شي) نه"، د استړاس قول "اساطیر سوچ کوي انسان نه" او د بارتهـ قول "متن لیک کوي لیکوال نه". اوس دا انسان نه د خبرې او د سوچ یا د لیکوال نه د لیکلو دا قوت یا صلاحیت څوک څنګه اخستی شي. د انسان په ځای دې څوک زر واره د نظام/ساخت ټکی ولیکي یا د لیکونکي په ځای دې زر واره څوک د شعریات/کوډز ټکي ولیکي خو دا نظام/ساخت/شعریات/کوډز د انسان/لیکونکي د وجود/ذات نه بغېر تشریح کېدی شي؟. د لږ ساعت د پاره که مورې د سوسیئر یا استړاس یا بارتهـ وجود منفي کوو نو ایا نظام/ساخت/کوډز دا هر څه پخپله مرتب کولی شول؟ کوم څه چې دوي مرتب کړي دي. د سوسیئر په ژبه شعریات (کوډز) خو د لیکونکي پټ قوت یا لاشعور او یا د ژبې په حواله د هغه لانګ دی چې د هغه په انفرادي کارکردګي (پارول) کښې په نظر راځي."(35)

> "که څه هم په دغه لږ کښې مورې داسې قسم توجیهات اورو چې که چرته د یوې فنپارې تعبیر (شرح) صرف اکي یو رنګ نشي کېدی نو مصنف خواهش/منشا خو له منځه لاړه یا که چرته د لیکونکي د خواهش/منشا تر مخه یو څوک د فنپارې په تعبیر باندې زور ورکوي، نو څوک څنګه دا نتیجه اخذ کولی شي چې د لیکونکي خواهش یا منشا یا معنا یا مفهوم څه وو؟ ځکه چې لیکونکی چا سره موجود خو نه وي."(36)

خو په بخښنه سره دا قسم سوالات د ماشومانه ذهنیت نه پرته نور هېڅ نه دي.

پنځم سوال: د سوسیئر یا د هغه د مقلدینو فکر د وټ ګن استهاین د دې نکته نظر غمازي خو نه کوي چې ګني د نظریې او ربښتیاو ترمنځه هېڅ تړون/تعلق/خپلوي نشته. ځکه چې د ربښتیاو (صداقتونو) تاکنه په تاریخي تناظر کښې کېږي او هر کله چې د ژبې په ترځ کښې زمورې مطالعه د تاریخ نه وشوکول شي او تش لمحه موجود پورې محدود شي (د سوسیئر په رڼا کښې) نو آیا د ربښتیاؤ سره زمورې تړون/تعلق څنګه پاتې کېدی شي؟

دا او داسې نور ډېر هغه سوالونه دي چې د ساختیاتو د بشپړ مطالعې نه پس د هر مترقي لوستونکي (نقاد) په ذهن کښې راپورته کېدی شي.

> "ډاکټر محمدعلي صدیقي د ساختیاتو سخت مخالف پاتې شوی دی. یو ځای هغه نوام چوامسکي ته خراج وړاندې کوي چې دوي د رواج شوې (مروجه) ژبې په دفاع کښې اواز پورته کړو او نړۍ (په خصوصي توګه درېیمه نړۍ) یې د ساختیاتو د ولقې نه بهر وساتله (37)".

"ساختيات او نوې تنقيدي مفکورو (قاري اساس، تعبيريت او نور) د دويم نړيوال جنګ د اقتصادي ستونزو په ولقه کښې ښکېل انسان د پاره کومه کليه سازي خو پرېږده چې نور يې هم په ذهني کشمکش کښې ښکېل کړو او شيانو (څيزونو) ته د نزدېکت په ځای يې د شيئت په لنجو کښې سرګردان کړو،"(38)

"دا نظريه نه يوازې د مارکسيت په ضد ودرېدله بلکې د وجوديت (چې د انفراديت علم يې پورته کړی دی) په ضد هم ده چې د هر قسمه انفراديت نفي يې وکړه، تر دې چې د ژبې او اساطير نه يې انسان منفي کړو او د ليک نه يې ليکونکی."(39)

"ډاکټر محمدعلي صديقي په صرف او نحو باندې زور راوړلو ته فلسفه نه وايي. د هغه په خيال فلسفه د يو مفهوم په ځای د يو بل مفهوم د موندولو نوم دی. اخر کښې يې د ساختياتو مماثلت د ماشومانو وېډيو ګېم سره ښودلی دی خو زياتوي چې د وېډيو ګېم دومره فايده خو شته چې د ماشانو مازغه تېزوي - ولې ساختياتي مطالعه مازغه په ځای اودروي."(40)

"او ځکه خو دا ټول نوي ادبي تحريکونه د زوال سره مخ شوي دي."(41)

## حوالې


1. Dictionary of Literary Terms & Literary Theories, J.A. Cuddon, London, Penguin, 1993, p.922
2. انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، اسلام آباد، نیشنل بک فاونڈیشن، اشاعت دوم (۲۰۱۵)، مخ ۱۱۶
3. وزیر آغا، تنقیدی تھیوری کے سو سال، لاهور، سانجھ پبلیکیشنز، (۲۰۱۲ء)، مخ ۵۵
4. نیئر، ناصرعباس، ڈاکٹر، ساختیات اور ساختیاتی تنقید، مشموله: ساختیات ایک تعارف، مرتب: داکتر ناصرعباس نیئر، اسلام آباد، پورب اکادمي، (اپریل ۲۰۱۱)، مخ ۱۱۲
5. عتیق الله، پروفیسر، تهیوري ساختیات پس ساختیات، مشموله: تنقید کی جمالیات، جلد: ۶ مرتب: پروفیسر عتیق الله، لاهور، فکشن هاوس، (۲۰۱۸)، مخ ۳۲
6. پیټر بیري، بنیادی تنقیدی تصورات، مترجم: الیاس بابر اعوان، لاهور، عکس پبلیکیشنز، کال ۲۰۱۸، مخ ۵۹
7. هم دغه اثر، مخ ۶۰
8. گوپی چند نارنگ، ساختیات پس ساختیات اور مشرقی شعریات، لاهور، ۱۹۹۹، مخ ۱۸
9. کلیم الرحمن، ساختییت، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۶) مخ ۱۳۲
10. نئیر عباس، مرتب، ساختیات اور ساختیاتی تنقید، مشموله: ساختیات ایک تعارف، مخ ۲۲۷، ۲۲۹
11. قمرجمیل، جدید ادب کی سرحدیں (جلد اول) کراچی، مکتبه دریافت، (فروري ۲۰۰۰)، مخ ۱۵۰، ۱۵۶
12. گوپی چند نارنگ، ساختیات و پس ساختیات اور مشرقی شعریات، مخ ۴۷
13. اېډوکېټ، یونس خان، جدید ادبی اور لسانی تحریکیں، لاهور، دعا پبلیکېشنز، (۲۰۰۳)، مخ ۱۵۱
14. پیټر بیري، بنیادی تنقیدی تصورات، مترجم: الیاس بابر اعوان، مخ ۶۳
15. گوپی چند نارنگ، ساختیات پس ساختیات اور مشرقی شعریات، مخ ۲۲۴
16. عتیق الله، پروفیسر، تهیوري ساختیات پس ساختیات، مشموله، تنقید کی جمالیات (جلد: ۶)، مخ ۳۳
17. نئیر عباس، مرتب، ساختیات اور ساختیاتی تنقید، مشموله، ساختیات ایک تعارف، مخ ۱۳۳، ۱۱۴

18. عتیق اللہ، پروفیسر، تهیوري ساختیات پس ساختیات ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد: ۶) ، مخ۳۴
19. نئیر عباس، مرتب، ساختیات اور ساختیاتی تنقید ، مشموله: ساختیات ایک تعارف، مخ ۱۱۴
20. عتیق اللہ، پروفیسر ،ساختییت ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۶) مخ ۱۲۸
21. رامن سیلڈن،نظریه ادب کے رهنما اصول، مترجم: اعزاز باقر، اسلام آباد، مقتدره قومي زبان پاکستان ،(۲۰۱۲)، مخ ۷۲
22. تنقیدی تهیوری کے سو سال ، مخ ۵۵
23. گوپی چند نارنگ ،ساختیات پس ساختیات اور مشرقی شعریات ، مخ ۱۸
24. عتیق اللہ، پروفیسر، ساختیت ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۶) مخ ۱۲۸
25. نئیر عباس، مرتب، ساختیات اور ساختیاتی تنقید ، مشموله: ساختیات ایک تعارف ، مخ ۱۱۶
26. تنقیدی تهیوری کے سو سال ، مخ ۶۹
27. عتیق اللہ، پروفیسر، تهیوري ساختیات پس ساختیات ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد:۶) ، مخ ۳۴
28. نئیر عباس، ساختیات اور ساختیاتی تنقید ، مشموله: ساختیات ایک تعارف ،مخ ۱۱۷
29. عتیق اللہ، پروفیسر، ساختیت ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۶) ،مخ ۱۲۹، ۱۳۰
30. تنقیدی تهیوری کے سو سال ، مخ ۱۰۸
31. عتیق اللہ، پروفیسر، تهیوري ساختیات پس ساختیات ، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد: ۶) ، مخ ۳۹
32. گوپی چند نارنگ ،ساختیات پس ساختیات اور مشرقی شعریات ، مخ ۲۳۸
33. عتیق اللہ، پروفیسر، ساختیت ، مشمله: تنقید کی جمالیات (جلد ۶) ، مخ ۱۳۳
34. هم دغه اثر ،مخ ۱۳۸
35. تنقیدی تهیوری کے سو سال ، مخ ۱۰۴
36. قاسم یعقوب،لفظ اور تنقید معني، اسلام اباد، پورب اکادمي،( اپریل ۲۰۱۷)، مخ ۲۱۴
37. صدیقی، محمدعلی، نشانات ، کراچی ، اداره عصرنو ،(۱۹۸۱)، مخ ۱۲۰
38. هم دغه اثر، مخ ۱۱۹
39. صدیقی، محمدعلی، ډاکټر، جهات، کراچی، ارتقاء ،(۲۰۰۴)، مخ ۳۷
40. هم دغه اثر، مخ ۳۸
41. وګورئ، روش ندیم، جدید ادبی تحریکون کا زوال، گندهارا ، راولپنډی (۲۰۰۲)